شماره ۲۵ / جنوری ۲۰۱۱

# افغان آپدیت



جوانان ورزشکار افغان در تلاش صلح به ما انگیزه میدهند

بازی اسکیت: زبان نو برای کابلی های جوان

کریکت ورزشکاران افغانستان

بزکشی در جریان سالها

د یوناما دخپرونو څخه

## د یوناما په هکله

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوی (یوناما) یو سیاسی پلاوی دی چې په ۲۰۰۲ کال کې د حکومت په غوښتنه او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا ایجاد شویدی تر څو د حکومت او د افغانستان د خلکو سره مرسته وکړی چې د دوامداری سولې او پرمختیا بنسټ پریږدی. یوناما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نورو دفترونو، پروګرامونو او پانګو سره په هر اړخیزه توګه کار کوی چې د تیرو ۶۵ کلونو راهیسی د افغانستان د خلکو سره مرسته کوی.

یوناما د ستفان دی میستورا، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی له خوا مشری کیږی، چې د هغه د خلکو او حکومت سره  په مهمو ډګرونو کې لکه امنیت، حکومت داری، منطقوی همغږی او همدارنګه په ۲۰۱۰ کال د جنوری په میاشت کې د لندن کنفرانس او له هغه وروسته په ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کې د کابل په کنفرانس کې  تر سره شوی متقابلی ژمنی بشپړ پلی کولو کې مرسته او ملاتړ کوی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو، کیسی، ورځنی خبری، عکسونو، سندونو او د افغانی رسنیو لنډیز د بشپړ لوستلو لپاره د یوناما لاندنی ویب سایټ څخه لیدنه وکړئ. www.unama.unmissions.org

یوناما اوونیز راډیویی پروګرامونه هم خپروی چې پراخ موضوعات، د افغانستان د خلکو د مرستې په هکله د ملګرو ملتونو د فعالیتونو او پروګرامونو په ګډون، نننی افغانستان، د افغانستان د ملی راډیو تلویزیون څخه خپریږی او دری او پښتو د یوناما د ویب سایټ څخه ډونلود (راښکته کول) کولای شې.

په همدی ډول یوناما د افغانستان په ملی راډیو تلویزیون کې د دوو تلویزیونی پر له پسی خپرونو ګډ تولید کوونکی هم دی. د حقیقت په لټه کې، تحقیقی او جنایی لړی. د ښار هینداره چې په هرو دوو اوونیو کې یو ځل خپریږی او په ښار کې بیلابیلی مسلې، د چاپیریال، د قانون ځواکمنتیا، عامه روغتیا او سیاست په ګډون، مسالی نشروی. د ښار هینداره پروګرام د افغانستان په دولتی تلویزیون کې د عامه چارو د لړی د علمبرداره په حیث کار کوی. دغه پروګرامونه هر دوشنبه او پنجشه د افغانستان په ملی رادیو تلویزیون کې مه هیروی.

افغان اپډیت د یوناما د ویندوی او ستراتیژیک اړیکی د څانګې دری میاشتنی خپرونه ده چې د خپل هیواد په آبادولو کې د افغانستان د خلکو هڅی او لاسته راوړنی رابرسیره کوی.

## در مورد یوناما

هئیت معاونت ملل متحد در افغانستان (یوناما) یک مأموریت سیاسی بوده که در سال ۲۰۰۲ از سوی شورای امنیت ملل متحد به اثر تقاضای حکومت افغانستان غرض کمک به حکومت و مردم افغانستان بخاطر بنا گذاشتن یک صلح و انکشاف پایدار تأسیس گردید. یوناما با سایر ادارات، وجوه و برنامه ها که خانواده یا سیستم ملل متحد در افغانستان را تشکیل میدهند و از مدت شصت و پنج سال بدینسو مردم افغانستان را کمک مینموده اند بطور هماهنگ کار مینماید.

یوناما به رهبری آقای ستفان دی میستورا، نماینده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان، حکومت و مردم افغانستان را در تلاشهای شان جهت آوردن بهبود در عرصه های مهم چون امنیت، حکومتداری و انکشاف اقتصادی، و همکاریهای منطقوی، و همچنان کمک در راستای تطبیق کامل تعهدات دوجانبه روی این مسایل که در کنفرانس لندن در ماه جنوری ۲۰۱۰ و متعاقباً در کنفرانس بین المللی کابل در ماه جولای ۲۰۱۰ صورت گرفته کمک و حمایت میکند. یوناما و خانواده ملل متحد برای محافظت و تحقق حقوق بشر، و تساوی حقوق زنان نیز کار مینمایند.

جهت خواندن همه خبرهای روز و دیدن تصاویر مربوط به فعالیت های ملل متحد در افغانستان، تصاویر روز، اسناد و خلاصه خبرهای رسانه های افغانستان، به ویب سایت یوناما در www.unama.unmissions.org مراجعه نمائید.

یوناما یک برنامه هفته وار رادیوئی را که در برگیرنده موضوعت مختلف، منجمله فعالیت های ملل متحد جهت کمک به مردم افغانستان است تهیه و پخش مینماید. برنامه ''افغانستان امروز'' از طریق رادیو تلویزیون ملی افغانستان پخش میگردد و این برنامه به زبانهای دری و پشتو روی ویب سایت یوناما نیز قابل دریافت است.

یوناما دو برنامه منظم تلویزیونی را با رادیو تلویزیون ملی افغانستان مشترکاً تهیه و پخش مینماید. برنامه ''در جستجوی حقایق''، که نامزد جایزه است، سلسله ای از جرایم و جریان تحقیقات جنائی را به نمایش میگذارد. برنامه ''آئینه شهر''، که دو بار در هفته به نشر میرسد، رویدادهای جاری گوناگون، منجمله موضوعات مربوط به محیط زیست، حاکمیت قانون، صحت عامه و سیاست را به تصویر میکشاند. آئینه شهر بعنوان یک برنامه تلویزیونی سلسله ای از امورات را به شهروندان افغان به تصویر میکشد. شما این برنامه ها را به روز های پنجشنبه و دوشنبه از طریق رادیو تلویزیون ملی افغانستان تماشا کرده میتوانید.

''افغان اپدیت'' یک نشریه ربع وار بوده که از سوی بخش ارتباطات استراتیژیک و سخنگویان یوناما به نشر رسیده و تلاشها و دستاوردهای مردم افغانستان در راستای اعمار کشور شانرا انعکاس میدهد.

## د محتویات جدول


GŽőG Pbŏ ĂPbĕü Ôügʅ Ơ ÔǤ éǨgŏbP úbŢb ŏ Ơ Ơ ăĦ žgŭ Ǩżbǁcgü ùbǁŃb ùbgấ ;ăübǏŭþʅ bPgƏţoŭ ǨƠ ùbŅƏʅ ǨŖbƏʅb ǨŽǏẢbấ Ơ ........ ۱
ĂPbĕü gẢbQǗcbŏ ùbgấ Ơ ăcĤ ŏ gẢ ;ăcgü HʉQǓʅ Ơ ........ ۲
ŭơọŏ ăĦPgĚbP bọc bọc HʉǓQþŏ Ơ ùbƏţẢbǁŃb Ơ ........ ۴
þêź ĞgẢ ŏ ŖPbĐŭ Ơ ùbƏţẢbǁŃb Ơ ........ ۶
ăẢơẢhọĚ ǩQbơƏcb ğǕŏƧc Ơ ........ ۸
ǨſQǗấ ǩŏ gọübọʅ ăĚ GơẢbgǓĦ Ơ ŏPgƏʅ ùbǁŃb ........ ۱۰



ستفان دی میستورا
نماینده خاص منشی عمومی ملل متحد برای افغانستان

# جوانان حمایت گر افغان در تلاش برای صلح به ما انگیزه میدهند

جوانان آینده افغانستان اند. جوانان افغان برای احراز جایگاه شان در صف مقدم ایجاد صلح و شگوفایی ملی به فرصت های لازم برای آموزش، رشد و شناخت یکدیگر در تمام گروه های قومی، جغرافیایی، جنسیت و دیگر گروه های اجتماعی نیازمند هستند.

حمایت راه بهتری برای اتحاد جوانان افغان در این تلاش می باشد. حمایت به جوانان فرصت های لازم را برای کار در گروه ها بخاطر یک هدف مشترک، آزمایش شکیبایی و پایداری و تصمیم گیری و ایجاد مهارت ها جهت تحقق رویا های فردی و گروهی فراهم می سازد. حمایت ارزش های سالم مانند نظم، همکاری و تعهد را رشد می دهد.

همانگونه که این شماره افغان اپدیت تأکید می کند، جوانان افغان مایل اند تا بخاطر پیوستن و لذت از ورزش از فرصت های لازم استفاده کنند. دختران و پسران، زنان و مردان جوان افغان در سراسر کشور ورزش های مختلف بشمول ورزش فردی مانند تکواندو و سکیت بورد و یا ورزش های گروهی مانند کریکت و یا فوتبال را هر روز انجام می دهند. با توجه به فشار و تلاش بر بیشتر اجتماعات در زمانی که هنوز منازعات در افغانستان حل نشده، در این شماره باز جوانان افغان در همه گفته هایشان اهمیت سرگرمی و تفریح در زندگی را به ما گوشزد می کنند. در سرگرمی و در حمایت شان از هم گروه شان و یا در حمایت از رقبای شان ما بنیاد های را در نسل جدید افغان می بینیم که بخاطر صلح ایجاد شده است.

امسال روز جهانی صلح فقط یک ماه بعد از شروع سال جهانی جوانان آمده. ملل متحد در افغانستان به روش های مختلف مشغول فعالیت است تا یک زندگی بهتر را برای جوانان این کشور ایجاد کند. در ماه اکتوبر به تعداد ۱۰۰ دختر و ۲۰۰ پسر سه روز را در یک کمپ آموزشی کرکت در جلال آباد سپری نمودند تا روز جهانی جوانان را گرامی بدارند. موضوع امسال این کمپ به حمایت یونیسف ''گفتگو و درک متقابل'' بود و این نشان میدهد که چگونه حمایت باعث ترغیب حوصله و پذیرش می گردد و در رشد جسمی و اخلاقی جوانان سهم دارد.

گفتگو و درک متقابل موضوع امسال روز جهانی جوانان است و با ایفای تعهد در اجتماعات سراسر کشور، افغان های جوان کمک میکنند تا بخاطر هم آهنگی اجتماعی و میان فردی بنیاد های لازم را ایجاد کنند. مهمتر از همه جوانان از طریق ورزش در حال کمک کردن به ایجاد صلح در کشور خود هستند.



# بازی اسکیت: زبان جدید برای کابلی های جوان

**جوانان افغان با دسترسی به ورزش به جوانان کشور کمک و مردم را با هم متحد می سازد.**

ده ها دخترجوان در وسط یک اتاق گنبد شکل ایستاده و به راهنمایی های وهیله گوش میدهند. صدای استاد و شاگردان با طنین خاصی بر دیوار های سالن برخورد میکرد. ناگهان گفتگو ها متوقف شده و شاگردان به سوی اسکیت بورد ها هجوم آوردند و بعد از بستن کلاه های ایمنی و زانو بند ها دوباره بدور مربی خویش حلقه زدند. این دختر ها تمرینات را خوب بلد بودند و چنان سکیت میزدند که برای یک لحظه فراموش تان میشود که بازی اسکیت بورد دختران در افغانستان یک امر غیر معمول است.

مربی وهیله ۱۳ ساله حتی از بعضی از شاگردان خویش جوانتر است. در گذشته این دختر در جاده های پر گرد و خاک کابل ساجق می فروخت تا اینکه یک روز با اولویر پرکوویچ یک پژوهشگر آسترالیایی که در سال ۲۰۰۷ به کابل آمده بود آشنا شد. اولویر در آن زمان هنوز مشغول کار نشده بود، که به آموزش سکیت بورد به کودکان خیابانی در شهر اقدام کرد. وهیله این ورزش را به زودی پسندید و روزانه ساعتها در مکروریان تمرین میکرد. حالا این دختر ماهانه حدود ۶ هزار افغانی از طریق آموزش سکیت به همنوعان خود بدست می آورد.

پرکوویچ موسسه غیر دولتی سکیتستان را در سال ۲۰۰۸ ایجاد نمود و به عنوان مدیر این موسسه میگوید:" وهیله دیگر یک ستاره در ردیف خود شده است.

اما در صنف جائیکه وهیله به آموزش غیر رسمی کلاس ها آغاز نموده شخص دیگری ستاره و او فقط یک شاگردن معمول شمرده میشود." او در ادامه میگوید: " وقتی این دخترها از یکدیگر می آموزند، همدیگر را بهتر درک میکنند و در نتیجه میتوانند به روش بهتر به هم یاد دهند."

سکیت بورد فقط آغاز این کار است. وهیله و دیگر دختران و پسران همسن و سال او که از مکتب باز مانده اند، هفته ها از طریق صنف ها دوباره در مکتب قرآن کریم، دری و ریاضی را می آموزند.

" ورزش نکته ساده ی برای کسب آموزش است و فرقی نمیکند که شما جوان، پولدار یا فقیر، تحصیل کرده و یا بی سواد هستید و همه این افراد به روش یکسان در ورزش سهم میگیرند."

پرکوویچ با داشتن یک تیم ۲۵ نفره که اکثرا شان داوطلب هستند، سکتیستان را به مثابه مکانی می بیند که در آن ورزش تجربیات عملی را برای ایجاد صلح در اختیار جوانان قرار میدهد. ورزش با پیوند زدن شگاف های قومی، اجتماعی و فرصتها زمینه خوبی را برای اتحاد جوانان

و گوش دادن به ندای همدیگر، صحبت و در نهایت آموختن از همدیگر مهیا می سازد. دستاورد های مشترک از طریق ورزش میتواند پیوند ها را در میان گروه های مختلف ببار آورد. غرش چرخ های سکیت بورد این جوانان تلاش دیگری است میلیون های کیلومتر دور از کنفرانس های دیپلوماسی.

بیش از ۳۰۰ جوان با هدف فراگیری سکیت و دیگر فعالیت ها بطور منظم به سکیتستان می آیند.

سوفی فریدل یکتن از مربیان آلمانی که سال گذشته به تیم سکیتستان پیوسته میگوید که با گذشت زمان شاهد تغییراتی در جوانان بوده. به گفته او در آغاز کودکان دارا و نادار از همدیگر دور می نشستند و کمتر با هم ارتباط برقرار میکردند. اما طی چند هفته این کودکان به گفتگو با یکدیگر آغاز کردند و رابطه نزدیکتری بین شان ایجاد شده است.

او با مرور حوادث روز های اول می گوید: '' یکبار وقتی منتظر شروع تمرینات بودیم، دختران پولدار نزدیک آمدند و بر گونه های من بوسه زدند. سپس دختران فقیر و همه دختران با یکدیگر روی بوسی کردند و این برای من خیلی جالب و خوش آیند بود. البته من مطمئن نیستم که این پدیده در سراسر کابل یکسان تأثیر گذار باشد. شاید در محیط خانوادگی شان طور دیگر باشد، اما اینجا محلی است که این دختران حد اقل میتوانند احساسات شان را آزادانه تبارز دهند''.

مقدسه با دقت سکیت بورد خود را از میان مخروط های سرخ رنگ هدایت کرد و بعد آمد در کنار یک گروه از دختران نشست. این فارغ صنف هفت کمتر از دو هفته قبل تمرینات خود را آغاز کرده و اکنون تعداد زیاد دوست و آشنا در اینجا دارد. او می گوید: '' از آمدن به اینجا خیلی احساس خوشحالی میکنم، حتی بعد از پایان تمرینات. میخواهم هرچه بیشتر سکیت برانم. در جاده، خانه و حتی در مکتب. من از پدرم خواستم تا یک سکیت بورد برایم بخرد، اما او در پاسخ گفت که پول ندارد''.

دختر دیگری بنام فرحناز سال گذشته وقتی معلم اش او را به این مرکز آورد، تمرینات خود را آغاز کرد. خانواده این دختر خیلی از او حمایت میکنند. فرحناز قبل از اینکه یک دور دیگر سکیت براند میگوید: '' از اینکه درس میخوانم و در اوقات فراغت اینجا سکیت میرانم، خانواده ام خیلی خوشحال است. میخواهم بهترین سکیت باز باشم، تا بتوانم خودم را حمایت کنم و در نتیجه مانند سوفی مربی شوم و دیگران را آموزش دهم''.

اعتماد این دختر ها تابناک است. همانگونه که فریدل یاد آور شد، این دختر ها به طرح دیدگاه و نظریات میان همدیگر آغاز کرده اند.

فریدل میگوید: '' من به سادگی خیلی مسایل ساده را از این دختر ها می پرسم، مانند اینکه چه چیز را بیشتر دوست دارید، سیب یا کیله؟ و این خود باب جدیدی برای طرح نظریات موافق و مخالف از سوی آنهاست.

در واقع از میان ۳۱۵ شاگرد سکیتستان بعضی آنها با همین سادگی آغاز کردند. من از وهیله که تازه توقف کرده بود تا نفسی تازه کند، پرسیدم، آیا میتوانی به ما بگویی که چگونه به بازی سکیت بورد آغاز کردی؟

وهیله بدون تعارف گفت ''نه'' و با شتاب به سوی همبازی هایش رفت.






# فراز و نشیب کریکت افغانستان

وقتی طبل های پولادین سرود ملی افغانستان را نواخت سراپایم را هیجان فرا گرفت. دو سال تمام با تیم کریکت افغانستان در سفر بودم و همه ماجرا را ثبت نموده بودم و چیزی به معنی رسیدن ما به مقصد نبود، جز شنیدن سرود ملی افغانستان که به تاریخ اول می در میدان کریکت بیساجور سنت لویس طنین انداز بود.

تشویق کنندگان با لباس های عجیب، صورت و بدن های رنگین و بستن پرهای رنگارنگ به سر با هیجان عجیبی دف های تأثیر گذار خود را می نواختند و با تکان دادن پرچم افغانستان خود را شریک بازی میدانستند. تیم کرکت افغانستان صفحه جدیدی را در تاریخ کشور باز میکرد. گزارشگر مشغول تنظیم دستگاه فرستنده خود بود تا برای ۳۰ میلیون افغان شنونده رادیو سلام وطندار این مسابقه را گزارش دهد. اکثر شنوندگان نمی دانستند چه هیجانی وجود داشت و شاید هنوز هم ندانند، اما در آن روز یعنی در اول می رخدادی اتفاقی افتاد که مایه فخر و سر فرازی افغانها شد. تیم ملی کرکت افغانستان به مرحله بین المللی رسیده بود و آماده رفتن به مسابقات ۲۰ تیم برتر جهان کریکت به کشور هندوستان بود.

برای اکثر افغانها فراز و نشیب تیم کریکت افغانستان معلوم نیست که چگونه بود، اما برای کسانی که میدانند این مسابقات تلاشی برای عشق، کار دشوار و پایان بسیار مناسبی برای سفر شگفت انگیزی بود که بیش از یک دهه ادامه داشت.

اصل ماجرا شاید روزی با تأثیر عمیق از کارخانه هالیوود سر بیرون آرد: مهاجرین جوان با پاهای برهنه روی سنگفرش ها کریکت بازی میکردند. دنده شان چوب درختان و توپ بازی شان پارچه های کهنه بود و در نهایت روزی فرصت رویارویی و بازی با قهرمانانی کریکت را برای آنها میسر ساخت و مهمتر از همه فرصت بدست آوردند تا به همه جهانیان نشان دهند که افغانستان خیلی چیز ها برای پیش کش دارد و نه فقط جنگ و ترورو طالبان که سرخط اخبار جهان باشد.

رئیس احمدزی یک تن از توپ زنان و عضو ارشد تیم کریکت افغانستان می گوید ''جهانیان فکر میکنند که افغانها فقط در جنگ درگیر اند و به نظر من بازیکنان کریکت ما به جهانیان نشان میدهند که ما فقط جنگجو نیستیم. ما مردم صلح دوست هستیم و خواهان رابطه خوب با همه جهانیان می باشیم.''

رئیس که زاده روستای ازرا در ولایت لوگر است، در جریان حضور نیرو های شوروی در دهه ۱۹۷۰ در افغانستان به خارج از کشور فرار کرده بود. به مثابه یک بخشی از اقوام کوچی، خانواده رئیس در کمپ مهاجرین کچه گری ساکن شد و در آنجا شهر پشاور بود که رئیس رشد نمود و برای اولین بار با کریکت آشنا شد.

رئیس با تکرار خاطرات خویش می گوید ''من هنوز طنین آهنگ پیروزی تیم پاکستان را در سال ۱۹۹۲ در مسابقات جهانی به گوش دارم. در آن زمان ما شاهد جشن و سرور، شلیک تفنگ و احساس خوشی عمیقی بودیم و ما از همان زمان تصمیم گرفتیم که باید این بازی را یاد بگیریم''.

رئیس بار اول در دسمبر ۲۰۰۱ میلادی به افغانستان آمد. او بخاطر کریکت دوباره باز گشت، زیرا شنیده بود تیم ضعیف کریکت افغانستان که به تازگی ایجاد شده بود بخاطر اولین مسابقات خود آماده سفر به پاکستان بود. رئیس میخواست عضو این تیم باشد.

رئیس می گوید '' آن زمان وقتی از مرز گذشتم و شرایط کشورم را دیدم خیلی ناراحت شدم، زیرا نه تأسیسات و نه جاده ی وجود داشت، و از اینکه میدیدم افغانستان این قدر از جهانیان عقب مانده به شدت ناراحت بودم. یک ماه را در کابل سپری کردم. در آن زمان امکانات مخابراتی در افغانستان وجود نداشت و مادرم بخاطر اینکه نمی توانستم با او ارتباط بگیرم خیلی نگران بود و حتی فکر کرده بود که من مرده ام.''

به تعداد ۲۴ بازیکن به شهر کراچی سفر کرده بودند تا در مسابقات تاریخی پاکستان اشتراک کنند. از جمله این ۲۴ بازیکن، پنج تن شان هنوز هم بازیکنان کلیدی تیم ملی اند، نوروز منگل (کپتان) رئیس احمدزی، دولت احمدزی، محمد نبی و کریم صدیق.

بعد از پایان این مسابقات که بدبختانه تیم افغانستان در آن باخت، تصمیم گرفتند تا افغانها را به یکی از ملت های کریکت باز تبدیل کنیم. به همین خاطر با هم یکجا شدند و اولین فدارسیون و اولین تیم کریکت افغانستان را ساختند. هرچند تا آن زمان امکاناتی وجود نداشت، اما در سال ۲۰۰۴ به افغانستان فرصت اشتراک در مسابقات آسیایی کریکت در کشور مالیزیا داده شد.

رئیس آن زمان را به یاد می آورد و میگوید '' وقتی در مسابقه با بحرین

پیروز شدیم حس کردیم که اگر چنین چیزی ممکن است پس هر نوع پیروزی برای ما دست یافتنی است و درک کردیم که با تلاش جدی میتوانیم به مقام های برتری برسیم و به همین خاطر بازی کریکت را با جدیت بیشتری دنبال نمودیم.''

وقتی افغانستان تازه به بازی کریکت آغاز کرده بود، در میان ۱۱۶ کشور در ردیف ۸۷ قرار داشت اما حالا در جهان در رده دوازدهم قرار دارد. برای کشوری که حتی یک باشگاه مناسب کریکت هم ندارد این موفقیت بسیار خوبی به شمار میرود.

افغانستان از طریق مسابقات بین المللی کریکت با سرعت نور رشد نمود و در ماه می ۲۰۰۸ تیم افغانستان به جزیره جرسی سفر نمود تا در پنجمین گروه یعنی پائین ترین گروه کریکت مسابقه دهد. افغانستان در آن مسابقات مقام اول را بدست آورد و با اجرای اتن این پیروزی را جشن گرفتند. پنج ماه بعد یعنی در اکتوبر ۲۰۰۸ این تیم به شهر درالسلام تانزانیا سفر نمود و با بازی در گروه چهارم مسابقات جهانی کریکت، مقام اول را بدست آورد. در آن زمان وزارت حج از پیروزی آنها بسیار شگفت زده شده بود و تیم کریکت افغانستان یک سفر حج عمره را در دسمبر ۲۰۰۸ بصورت افتخاری بدست آورد. این سفر تیم را برای دور بعدی مسابقات که در ماه جنوری ۲۰۰۹ در کشور آرجانتین برگزار شد خوب آماده ساخت. تیم برای رسیدن به شهر بوینس آیرس چهار روز در راه بود، اما خستگی سفر با پیروزی مقام اول از خاطر شان محو شد و این کشور توانست به رقابت های مقدماتی جام جهانی که در ماه اپریل ۲۰۰۹ در افریقای جنوبی برگزار شد دست یابد.

افغانستان اولین تیم کریکت بود که در مدت بسیار کوتاهی از گروه ۵ به منتخبین جام جهانی رسید. به راستی که تیم کریکت افغانستان تاریخی از خود به جا گذاشت. اما در افریقای جنوبی روپای رسیدن به جام جهانی از دست رفت. زیرا بازی این تیم در این مسابقات به اندازه کافی قوی نبود و فقط توانست تیم های سکاتلند و ایرلند را در دور اول ببرد و هنوز نتوانسته بود یکی از چهار مقام برتر را بدست بیارد تا بتواند به مسابقات جهانی سال ۲۰۱۱ راه پیدا کند. اما بازی شان به قدر کافی خوب بود تا بتواند مقام یک روز بین المللی را بدست بیارد. این مقام به معنی این است که این تیم میتواند یک روز در بازی های سه روزه با تیم های کینیا، ایرلند، سکاتلند و کانادا بازی کند. همچنین به معنی این است که به تیم افغانستان فرصت داده شد تا در مسابقات ۲۰ تیم برتر جام جهانی بازی کند که در ماه فبروری ۲۰۱۰ برگزار شد.

این بار افغانستان بسیار خوب درخشید. بازی در دور مسابقات ۲۰ تیم برتر جام جهانی در شهرک ورزشی دوبی با حضور ۱۰ هزار تماشاگر افغانی به این تیم قوت کافی بخشید تا در مسابقات مقام اول را کسب کند. این پیروزی همانند مرحمی بود بر زخم ناکامی برای رفتن به جام جهانی ۲۰۱۱ میلادی.

پیروزی این تیم در دوبی به معنی این بود که بلاخره میتواند در یک مسابقه جهانی که در سراسر دنیا پخش میشود، اشتراک کند. سفر به غرب هند برای همه اعضای تیم به واقعیت پیوستن رویای شان بود و پاداش خوبی برای تلاش خسته ناپذیر و طولانی شان. هر چند باز در برابر هند و افریقای جنوبی به شکست مواجه شد، اما تیم با این اقدام خود نشان داد که خواهان پیروزی بیشتر است. گزارشگران بازی کریکت از سراسر دنیا تیم افغانستان را تشویق کردند و این واقعیتی بود که میتوان شکست را با سر بلند تحمل کرد.

طی دو سال گذشته این تیم راه درازی را طی نمود. حالا با پرواز های درجه یک سفر میکنند، در حالیکه دو سال قبل بعضی از اعضای تیم حتی سوار طیاره نشده بودند. در طول سفر از طریق فیس بوک و سکایپ همیشه با خانواده ها و دوستان خود در تماس بودند. اخیراً در یک اعلان تجارتی بسیار جالب به کارگردانی بالیوود برای شبکه مخابراتی اتصلات اشتراک کردند که این اعلان تجارتی در جریان جام جهانی در افغانستان پخش میشود. شرکت های بزرگی مانند شرکت هوانوردی صافی آماده قرارداد با آنها هستند.

این تیم خیلی مشتاق است تا دستآوردی به کشور خود داشته باشد. اکثر اعضای تیم حالا با یک موسسه غیر دولتی کریکت بنام سازمان حمایت از کریکت بازان جوان افغانستان کار میکنند. همکاری با MCC و ارتباط افغانی کمپ های کریکت را در سراسر کشور برای نوجوانان ایجاد می کند.

کپتان نوروز منگل اخیراً یک سازمان حمایت از کریکت بازان جوان را در شهر خوست افغانستان ایجاد نمود. نوروز می گوید '' خیلی از نوجوانان می خواهند برای افغانستان کریکت بازی کنند و آرزو دارند تا روزی مثل بازیکنان تیم ملی کشور باشند. وقتی مسابقات را در شهر خوست برگزار کردم، ما فقط برای اشتراک تنها ۵۰ کودک پول داشتیم، اما این تعداد به ۱۲ هزار کودک رسید و برای ما خیلی جالب و حیران کننده بود''.

این تیم یک سایت انترنتی بنام افتخار دارم افغان باشم (www.proudtobeanafghan.com) ایجاد کرده است. اعضای تیم ملی کریکت می خواهند تا در روستا های اجدادی شان مکتب کریکت ایجاد کنند و امیدوارند و خواهان فروش پیراهن و دنده های امضاء شده، کلاه، تصاویر و پوستر خود هستند تا بتوانند منابع مالی خود را تقویت کنند.

برخاسته از خاکستر نام فلم مستندی از ماجرا و سفر آنهاست که خزان امسال از طریق بی بی سی نشر میشود.

نوشته لیزلی نوت



## میدان نبرد تازه افغانستان: چگونه ورزش دشمنان دیروز و معلولین را با هم یکجا میسازد

فردوس در زمان حکومت نجیب الله یعنی در اواخر ۱۹۸۰ یک سرباز بود، اما ملک رنگا یک جنگجوی جهادی و دشمن سوگند خورده دولت آن زمان بود.

با اینکه هر دو پشتون و از ولایت ننگرهار بودند، اما به دستور فرماندهان خود در برابر همدیگر می جنگیدند و در نتیجه فردوس پای چپ و رنگا هم قسمت راست بدن خود را از دست دادند.

بعد از دو دهه در یک بعد از ظهر تابستانی هر دو جنگجو با پا های مصنوعی دوباره رو در روی هم ایستادند، اما جنگ این بار برای نابودی یکدیگر نبود. دو دشمن دیرینه این بار در یک میدان خاکی و گل آلود شهر جلال آباد رو در روی هم در نبرد فوتبال ایستاده بودند.

تنها عاملی که باعث رویارویی این دو مرد معلول در آوان ۴۰ سالگی شان شد، معلولیت و ورزش بود.

فردوس با آرزوی فراموش کردن گذشته می گوید '' ورزش شما را از نظر جسمی و روانی سالم نگهداشته و کمک میکند تا حس برادری را در برابر رقبای خود تقویت کنید''.

اما تا حال هیچ چیزی نتوانسته خاطرات گذشته او را نابود سازد. او می گوید '' در میدان جنگ در شهر جلال آباد بودم که ناگهان روی یک ماین پای گذاشتم''. در ادامه توضیح داد که چگونه پای خود را از دست داد و با قطع شدن پای چپ اش وظیفه نظامی خود را از دست داد و بعد شغل آزاد را پیشه کرد.

فردوس که پدر دو پسر و یک دختر است، می گوید بعد از دیدن برنامه های ورزشی معلولین در تلویزیون های کشور های غربی علاقه خود را به ورزش زیاد کرده و گاهگاهی پهلوانی هم میکند.

از اینکه طی سه ماه ۱۵ کیلو وزن خود را از دست داده خوشحال است، زیرا در آن زمان ۱۰۵ کیلو وزن داشت.

فردوس و رنگا در میان ۲۳ معلول دیگر قرار دارند که هر روزه بخاطر حمایت همدیگر و سرگرمی از اتحادیه ملی معلولین در جلال آباد دیدن میکنند. این مرکز تا حال امکانات رهایشی را برای ۱۵ معلول فراهم نموده است.

اتحادیه ملی معلولین توانسته برای رنگا در ریاست امور اجتماعی کار پیدا



کند و فردوس هم پیشه مسافر کشی توسط موتر را اشغال نموده است. هر روز همدیگر را در دفتر اتحادیه ملی معلولین که داخل ساختمان ریاست شهدا و معلولین قرار دارد، می بینند. در داخل این محوطه یک مکتب با ظرفیت ۷۴۰ کودک برای یتیمان وجود دارد.

مسعود صافی رئیس اتحادیه ملی معلولین میگوید که از میان چهار هزار معلول ثبت شده در ننگرهار، اتحادیه آنها توانسته برای ۵۰۰ تن شان کار پیدا کند. صافی که خود هم یک پا را از دست داده است می گوید، ''شاید معلولین یک پا یا یک دست خود را از دست داده باشند، اما چیزی که در درون آنها زنده است، امید به آینده کشور و ورزش است که تا حدی بخاطر ایجاد این گونه امید باید مورد حمایت قرار گیرد''.

صافی در ادامه می گوید '' همه این افراد در زمان جنگ های داخلی و بیشتر در زمان حکومت نجیب الله و بعد از آن یعنی در زمان جنگ میان گروه های جهادی معلول شده اند و ما حتی چندین جنگجوی قبلی طالب را هم نزد خود ثبت نموده ایم. تا حال حدود ۵۵۰۰ معلول از سه ولایت شرقی: کنر (۲۰۰ معلول)، لغمان (۲۰۰۰ معلول) و نورستان (۱۵۰۰ معلول) در این مرکز ثبت و راجستر شده اند.

صمیم که ادعا میکند یکی از بهترین بازیکنان تیم ملی کریکت افغانستان خواهد شد با تأکید بر اینکه آینده افغانستان را در ورزش می بیند و نه در مرمی تفنگ می گوید ''بعضی ها میگویند که این کار را نمی توانم، زیرا معلول هستم. اما من به آنها نشان میدهم که هر کار را میتوانم''.

با اشاره به رشد سریع افغانستان در جهان کریکت، این مرد که حالا پدر شش فرزند است میگوید چنان شیفته کریکت شده است که آروز دارد روزی خود را در میان کریکت ببیند.

صمیم که تازه از بازی فوتبال و والیبال با دیگر دوستان معلول خود بازگشته بود، گفت: '' ورزش باعث رشد همبستگی و هماهنگی اجتماعی میشود''. او نتوانسته بود به علت بارندگی شب گذشته و گل ولای در میدان کریکت بازی کند.

بهترین سرگرمی این مرد ها والیبال، فوتبال و کریکت است. بطور اوسط هر یک از آنها روزانه سه ساعت وقت خود را با بازی در میدان خاکی داخل محوطه اتحادیه سپری میکنند.

اما چرا باید ورزش کرد؟ صمیم که دیگران را گلدوزی یاد میدهد در پاسخ میگوید '' بخاطر اینکه برای سلامتی جسمی و روانی خوب است و نمی گذارد تا جوانان به مواد مخدر و سگرت معتاد شوند''.

حیات خان مدیر بخش ورزش اتحادیه ملی معلولین در جلال آباد خوشحال است که دوستان معلول اش توانستند یک تیمی از مسئولین و کارکنان هشت سفارت خارجی، کارکنان وزارت دفاع را در ماه مارچ در کابل شکست دهند.

خان که ۳۹ سال سن دارد در گذشته یک جهادی بود و در سال ۱۹۸۸ حین حمله به یک پوسته دولتی در ولسوالی چپرهار پای راست خود را از دست داد. او می گوید '' اکثر اوقات خود را صرف ایجاد تیم های ورزشی و جمع آوری کمک میکنم. همچنین تیم ها را برای اشتراک در رقابت ها بخصوص در کابل انتخاب نموده ام.'' در ادامه گفت تیم اش سال گذشته در مسابقات والیبال توانست تیم های معلولین مزارشریف، لوگر و کابل را شکست دهد.

اما مشکل عمده این است که دولت به غیر از معاش اندک به مبلغ ۶۰۰ افغانی یا ۱۲ دالر در ماه برای هر معلول دیگر هیچ کمکی نمی کند.

دکتور نادرشاه ۴۵ ساله که یک قهرمان ورزش در افغانستان است و بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۰۳ قبل از رسیدن به نیویارک طی مدت یک سال و شش روز دور دنیا را گشته می گوید؛ ''ورزش برای معلولینی که گذشته تلخ دارند بسیار موثر می باشد. زیرا میتواند فشار را کاهش داده و مصئونیت در برابر بیماری را بالا میبرد''.

دکتور شاه که زاده ولسوالی سرخ رود است می گوید معلولین مانند افراد سالم توانایی یکسان دارد. '' من معلولین زیادی را دیده ام که در مسابقات جهانی اشتراک نموده و مدال های زیادی را بدست آورده اند. این داکتر دندان خود را آماده یک سفر دیگر جهانی با پیام صلح می سازد.

تهیه شده توسط تیلاک پوکهارل و شفیق الله واک، یوناما



# تاریخچه ی بازی بزکشی

بزکشی که به معنی چنگ زدن و کشیدن بز میباشد، از جمله بازی های ماجراجویانه جهان محسوب میگردد. در دهه های اخیر این بازی به یکی از ورزش های سمبولیک افغانستان مبدل گردیده است؛ تصاویر بازی بزکشی در تکت های پستی، تابلو های هوتل ها و پوش تکت خطوط هوایی آریانا قابل دید میباشد. یک دیوار در وزارت اطلاعات و فرهنگ به تصاویر فرمان روایان معروف کشور تخصیص داده شده در حالیکه در دیوار دیگر تصاویر بزرگی از بازی بزکشی ترسیم گردیده است.

بازی بزکشی که از شمال هندوکش منشأ گرفته است میراث از فرهنگ اسب سواری کوچی های مغل و ترک اعم از ترکمن ها، ازبک ها، قزاق ها و قرغز ها میباشد. مسکن گزینی و تجمع این گروه ها در کشور های آسیای مرکزی بزکشی را به یک بازی خسته کن مبدل ساخته است. از سال های ۱۹۲۰ به بعد افغانستان اخیرین خانه و محل بزکشی بوده است که برای قرن ها در اینجا بازی های آن برگزار میگردد. اگر بین ماه های نومبر و مارچ شما خوش شانس باشید و در یکی از روستاهای شمال افغانستان زندگی داشته باشید، به یکی از بازی های قدیمی برخورد خواهید نمود. بازی های عنعنوی بزکشی ''توده برای'' فاقد تیم، یونیفورم، سرحد و قوانین تحریری میباشد. هدف این بازی ساده ولی رسیدن به آن مشکل میباشد: هر سوار کار سعی میکند تا نعش حیوان (بز بدون سر و سم) را از زمین بردارد و به محلی دور از دیگران انتقال دهد.

امکان دارد صد ها سوار کار موجود باشد. بز میتواند تا چهل کیلو وزن داشته باشد. مشاجره بعضاً موجود میباشد: اینکه ''فارغ'' بمعنی به چه اندازه فارغ و ''دور'' به چه اندازه دور بوده و کی باید تصمیم گیرد؟ با توجه به خشونت ذاتی این بازی، منازعات با طبیعت مدارا میتواند به زودی به زد و خورد های خونین مبدل گردد. آنجاست که اصول عمده بزکشی مطرح میگردد.

بزکشی همیشه توجه سوار کار شایسته را طور جدی بخود مبذول میدارد، سوارکار بزکشی چاپ انداز گفته میشود که توسط کلاه پشمی اش و در این اواخر توسط کلاه تانکیست تانک های روسی قابل شناخت میباشد. در حقیقت اشخاص عمده در این بازی مسن بوده و افراد شناخته شده هستند که ''خان'' نامیده میشوند و مالک اسب ها بوده و سوارکاران را استخدام و بازی ها را میزبانی مینمایند. خان ها (که در حال حاضر با قومندانان ملیشه جاگزین گردیده اند) افراد بزرگ صفحات شمال افغانستان میباشند، که بر مسایل زمین، آب، مواشی، مناطق تجارتی شهری و سایر منابع کم یافت حاکم میباشند.





بزکشی – خصوصاً منازعات و زد و خورد های آن – زمینه نمایش قدرت این خان ها را مساعد مینماید. خانی که بتواند بزکشی بدون مشاجره و نزاع را راه اندازی نماید – یا بتواند بزکشی را که به نزاع انجامیده آرام سازد شهرت سیاسی زیادی بدست میآورد.

در ماه اکتوبر سال ۱۹۵۳ حکومت افغانستان یک تورنمنت ملی را در کابل بمناسبت سالگرد بابای ملت محمد ظاهر شاه راه اندازی نمود. به ابتکار صدر اعظم وقت محمد داؤد، یک شکل جدید بزکشی ''قره جای'' توسط کمیته ملی المپیک افغانستان تنظیم گردید: تیم های (۱۰ یا ۱۲ نفری در هرطرف)، یونیفورم (با افزایش تعداد ولایات نیز افزایش یافته است)، سرحدات و علامت گذاری (دایره ها و بیرق های که دور مکمل و موفقانه بدور آن باعث بلند رفتن پاینت یا نمره میگردد)، و یک قاعده نامه که توسط داور های مسلح تطبیق میگردد. کنترول این شکل جدید برای گرداننده ای بازی نهایت سهل تر است. خوانین بطور افتضاح آمیز کنار رانده شدند و بازی کنان که به فیصله های حکم مخالفت مینمودند برای مدت کوتاهی حبس میگردیدند. درحالیکه هنوز در قالب یک بازی قرار داشت، بزکشی نمایشی در برجسته ساختن رئیس کشور در نقش گرداننده ملی گردیده بود. در ابتدأ سفر از هندوکش به کابل توسط اسب صورت میگرفت و همه خصوصیات ماجراجویانه را در خود داشت. زیبایی های این سال های قبل – پیش از آنکه کوتل سالنگ احداث گردد – طور شگفت آور در داستان حماسی جوزف کیسل سال ۱۹۶۷ ''لیس شیوالیرز'' تذکر داده شده است که یک سال بعد به زبان انگلیسی ''هارس مین'' یا اسب سواران ترجمه گردید. در سال ۱۹۷۱ کمپنی فلم سازی کلمبیا پکچرز فلمی را با بازیگری عمر شریف، جک پالنس و لی تایلریانگ تهیه نمود که وی توسط نشریه لاس انجلس تایمز ''منحیث زیبا ترین کوچی'' شناخته شد.

تورنمنت سالانه کابل همچنان شامل برنامه ساختار ملی و مرکزیت نیز گردیده است. بازی کنان که در جنوب کوه های هندوکش قرار داشتند به یک فستیوال ۲ هفته ای به کابل آورده شدند: درمسیر راه در یک چایخانه ولایتی توقف نمودند، با چشمان نظاره گر ''شهر پادشاه'' را مینگریستند و توسط مأمورین ملبس با یونیفورم غربی مانند در اطراف شهر رهنمایی میگردیدند، و به کلاه های خویش با احساس قرار داشتن در تحت کنترول حکومت باز گشتند.

آن کنترول البته بعد از سال های ۱۹۷۸ از هم پاشید، ولی بزکشی از همه رژیم ها زنده بدر آمد: روس ها (هراس داشتند که این بازی تمثیل از بسماچی اسب سواری سال های ۱۹۲۰ میباشد)، مجاهدین (این بازی را دوست داشتند و در دوران جهاد نیز این بازی را ادامه میدادند) و طالبان (که در ابتدأ بازی را منع قرار دادند و بعد تر تا اندازه تحت تأثیر هیجان آن رفته بودند).

درسال ۲۰۱۰ عین مهارت های اسب سواری و تحرکات سیاسی در کار میباشد. در بازی های بزکشی میتوان این هر دو را سراغ نمود. سوار کاران برنده کی ها اند؟ خیلی مهم



اینکه: اسب های کی را سواری می نمایند؟ و مهم ترین همه اینکه: چه کسی بازی بزکشی را راه اندازی و میزبانی مینماید و به چه خوبی آنرا کنترول مینماید؟ این ها موضوعات پایدار بازی خود افغانستان ''بازی بزرگ'' میباشند.

ولی زمان در گذر است. سوار کاران برنده زمانی چپن، دستار، تفنگ، قالینچه، قالین و حتی اسب های خوب به جایزه میبردند. در سال های ۱۹۷۰ بیشتر جوایز نقدی را پول افغانی تشکیل میداد. درحال حاضر دالر امریکایی حاکم میباشد ولی نه درهمه جا. تلویزیون، دی وی دی در بزکشی های نوروز در مزارشریف نیز جوایز را تشکیل میدهد. حد اقل یک کمپنی مخابراتی در افغانستان بعضی از بازی ها را در کابل ضمانت پولی نموده است- که در آن جوایز را تیلفون های همراه تشکیل میداد. یکی از چاپنداز که بی صبرانه انتظار رفتن به خانه را داشت، بسته تیلفون خویش را که بطور جایزه گرفته بود باز نموده، و اولین تماس را با فامیل خویش درحالیکه بالای اسب اش سوار بود برقرار نمود.

سنت تورنمنت ملی که در طی سه دهه انکشاف نموده در اوایل سال های ۱۹۸۰ به تعلیق درآمد. رژیم های متوالی مارکسیستی قادر به کنترول اوضاع بیرون از کابل نبودند. در ولایات جامعه دهاتی بزکشی همه در مقاومت ضد شوروی شرکت نموده و از آن حمایت مینمودند. حالا یک نسل بعد حکومت فعلی با وجود توجه شخصی قابل ملاحظه معاون رئیس جمهور، آقای فهیم اولویت های دیگری دارد.

و هنوز هم باوجودیکه به شوکت روز های برگزاری آن در غازی استدیوم نمیرسد، بزکشی اکثراً روز های جمعه بعد از ظهر در زمستان در شهر کابل برگزار میگردد. قبل از روز برگزاری آن شام های پنجشنبه از طریق رادیو اعلان میگردد و در مکان های مختلف میزبانی میگردند. کلپ اسبق نظامی در عقب مقر آیساف، ساحه باز در پائین بالاحصار و در منطقه قصبه در شمال کابل از جمله محلات برگزاری بزکشی میباشند. بعضی از مالکین اسب ها را برخلاف خان های سابق حالا تجار بزرگ شهر تشکیل میدهند. بسیاری از سوار کاران کابل به بازی بزکشی جدید میباشند ولی آنان زود میآموزند. از تماشا چیان پذیرش باز صورت میگیرد.



# ځوان افغان لوبغاړي موږ ته د دې الهام راکوي، چې د سولې لپاره کار وکړو



**ستفان دي میستورا**

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی

ځوان وګړی د افغانستان راتلونکې ده. د دې لپاره چې د یو سوله ییز او سوکاله هیواد د جوړولو لپاره هغوی مخکښه رول ولوبوی ځوان افغان د زده کړې او ودې امکاناتو ته اړتیا لری څو چې یو بل د قومی، جغرافیایی، جنسیت او پر نورو ټولنیزو ډلو د ویش څخه پرته وپیژنی.

ورزش ډیره غوره او په زړه پورې لار ده، څو چې ځوان افغانان سره په دغه هڅو کې را یو ځای کړو. ورزش ځوانانو ته د دې امکانات برابروی چې د ګډ هدف لپاره سره یو ځای په یو ټیم کې کار وکړی، څو خپل تلاش، هوډ او حوصله و ازمایی او خپل مهارتونه پورته کړی چې شخصی او د ټیم خوبونه رښتیا کړی. ورزش روغمنو ارزښتونو لکه دسپلین همکاری او ژمنې ته وده ورکوی.

د افغان اپډیټ دغه ګڼه هغه ځوان افغانان راجوتوی چې د دې هوډ او هیله لری څو د ورزش د امکاناتو څخه خوند واخلی. که دا انفرادی ورزش لکه تکواندو او سکیټ بورډینګ دی او یا هم ډله ییز ورزش لکه کریکټ او فوټبال، افغانې نجونې او هلکان، ځوانې ښځې او نارینه د ټول هیواد په کچه هره ورځ ورزش کوی. د هغه فشار او تشنج سره سره چې ډیرې ټولنې ورسره د افغانستان د نه حل شوې لانجې په دې مهال په افغانستان کې مخ دی، ځوان افغانان په دې ګڼه کې د خپلو کیسو د لارې د هغه خوند اهمیت را په یادوی چې زموږ په ژوندانه کې دی.

د هغوی په خنداګانو، هغه ملاتړ چې دوی یې د ټیم د غړو لپاره او هغه درناوی چې دوی یې د لوبې د حریفانو او سیالانو لپاره لری دې کې موږ هغه بنسټونه ګورو چې د افغانستان په نوی نسل کې د سولې لپاره رامنځته کیږی.

سږ کال د سولې نړیواله ورځ یوازې یوه میاشت د ځوانانو د نړیوال کال د مناسبت د پیل څخه وروسته راغله. په افغانستان کې ملګری ملتونه په ډیرو او بیلا بیلو لارو سره فعالیت کوی، څو د دې هیواد د ځوان نسل لپاره د ښه ژوند د ودې امکانات برابر کړی. د روان کال د اکتوبر په میاشت کې ۱۰۰ نجونو او ۲۰۰ هلکانو په جلال اباد کې د کریکټ د روزنې په کمپ کې درې ورځې تیرې کړی څو چې د ځوانانو د نړیوال کال لمانځنه وکړی. د یونیسف له خوا د ملاتړ شوی کمپ موضوع ''ډیالوګ او متقابل تفاهم'' وو چې څرنګه ورزش زغم او د منلو احساس هڅوی او همدارنګه د ځوان نسل فزیکی، اخلاقی او ټولنیزې پرمختیا په لار کې ونډه لری.

ډیالوګ او متقابل تفاهم د ځوانانو د نړیوال کال موضوع ده- چې د هیواد په کچه په ټولنو کې د ورزش کولو د لارې ځوان افغان نسل د دې سره مرسته کوی چې د خپل منځی او ټولنیزې همغږی او پیوستون بنسټونه جوړ کړی. تر هر څه وړاندې د ورزش د لارې ځوان افغانان د دې سره مرسته کوی څو پخپل هیواد کې سوله راولی.

# د بزکشي ابتدايي پېژندنه

د افغانستان لرغونی لوبه اوس مهال د سیاسی لاسته راوړنو د تر لاسه کولو لپاره د ځواکمنو لخوا کارول کیږی.

وزلوبه په فارسی کې د سیرلی کښولو/لاسته راوړلو ته وایی، او دا لوبه د نړۍ په کچه تر ټولو وحشتناکه لوبه ده. په وروستیو لسزیزو کې دا لوبه د هیواد په ځانګړې لوبه اوښتې ده: د دې لوبې تذکر په پوستې ټکټونو، د هوټلونو په تابلوګانو او د اریانا افغان هوایی کرښی په ټکټونو کې شوی دی. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت یو دیوال د هیواد د نامتو حکمرانانو انځورونو او بل دیوال یې د وزلوبی نقاشی ته ځانګړی شوی دی.

د وزلوبې اصلی ټاټوبی د هندوکش په شمال کې دی، وزلوبه د ترکانو–مغلو د آسونو د سپرلی او د دشتو د کوچیانو د د میراث: یعنی ترکمنو، ازبکو، قزاقو او قرغیزو استازیتوب کوی. په پخوانی شوروی اتحاد کې د دغو ډلو میشتدنې او راغونډنې د وزلوبی لوبه په یو ډول بې مانا تشریفاتو او مراسمو بدله کړه. او همدارنګه د ۱۹۲۰ کلونو راهیسې د افغانستان شمال برخه چې د پیړیو راهیسې دا لوبه په کې ترسره کیدله د وزلوبی یوازینی ټاټوبی پاتی شوی.

که چیرې تاسو طالع ولری او د نومبر او مارچ د میاشتو ترمنځ د هیواد په شمال کې و اوسی، نو تاسو ممکن د نړۍ د یوه لرغونې لوبې سره مخ او یا د دې لوبې له امله تر پښو لاندې شی. د وزلوبی په پخوانی بڼه (توده برای) کې ټیمونه یونیفورم، حدود او لیکلی قوانین نه لری. د تشریح یا بیان موخه یې ساده خو تر لاسه کول یې ستونزمن کار دی. په آس هر سپور کوښښ کوی چې هغه بې سره خوسکی له ځمکې پورته کړی او د هر چا څخه یې لری او په خپلواکه توګه خپل ځای ته ورسوی.



کیدای شی د دې لوبې لپاره ۱۰۰ تنه راغونډ شی. د خوسکی وزن ښایی نږدې ۴۰ کیلو وی. شخړې ډیرې پیښیدونکې دی: تر کومې اندازې ازاد یا خپلواک ته آزاد ویل کیږی او تر کومې اندازې روښانه ته روښانه ویل کیږی؟ او څوک باید پریکړه وکړی؟ د لوبې د اصل په پام کې نیولو سره، کیدای شی د بڼه ماهیت درلودونکې لوبې په خونړیو جګړو واوړی. دلته بیا د وزلوبی اصلی اصول سره په ټکر کې شی.

د وزلوبی په لوبه کې مخکښه لوبغاړی د چپنداز په نوم یادیږی او هغه د نوموړی د خولې څخه چې په اوس حال کې د پخوانی شوروی اتحاد د ټانګ خولې پر سر کوی، پیژندل کیږی. په حقیقت کې، کلیدی څیرې د زیات عمر درلودونکی یا زیات مخکښه کسان دی چاته چې د خانانو خطاب کیږی او د آسونو خاوندان دی، آس سواره په دندو ګماری او د لوبو کوربتوب کوی. د خانانو ځای ،اوس تر یوې اندازې د ملیشایی قومندانانو له خوا څخه څوک چې د هیواد په شمال کې زیات اتبار لری، او د ځمکې، اوبو، حیواناتو، ښاری سوداګریزو موقیعتونو او نورو ارزښت لرونکو سرچینو پر سر د ریښتنی مبارزې واک لری، نیول شوی دی.

وزلوبه ، په ځانګړی ډول، د دې لوبې شخړې او بحث او مباحثې، د خانانو لپاره د هغوی د قدرت د ښکاره کولو یو فرصت برابروی، خانان کولای شی د وزلوبی یوه سوله ییزه لوبه دایره کړې. او هم کولای شی د وزلوبی هغه لوبه چې په ارامه شخړه اوښتی وی کراره کړی، په دې کار سره هغوی سیاسی شهرت او اتبار تر لاسه کولای شی.

په لومړیو کې د هندوکش نه تر کابله سفر به د آسونو په واسطه ترسره کیده، دې کار په خپل ذات کې د یادولو د یوې پیښې خوند درلود. د سالنګ د غاښی د جوړیدو څخه وړاندې ددې لومړیو کلونو خوند په کال ۱۹۶۷ د جوزیف کاسیل په رزمی شعر/ناول Les Chevalers کې په اریانوونکی ډول کښل شوی چې بیا یو کال وروسته د Horseman یا د آس سپور په انځور کې په انګلیسی ژبه راڅرګند شو. په ۱۹۷۱ کې د کولمبیا فلم له خوا د عمر شریف، جاک پالانس او لی ټکی کرینګ په سینمایی نقشونو کې فلم خپور کړ چې د لاس انجلس ټایمز مجلې له خوا د تل پاته زړه کښوونکی کوچې په نوم ونومول شو.

افغان حکومت په ۱۹۵۳ کې د علیحضرت محمد ظاهر شاه د کلیزی لپاره په کابل کې د وزلوبی یو تورنمنت لارې ته اچولې وو. د لومړی وزیر محمد داود په نوښت د وزلوبی یوه نوې بڼه د افغانستان د ملی المپیک له خوا تنظیم شوې وه: ټیمونه (۱۰ یا ۱۲ ټیمونه په یو طرف کې) یونیفورمونه (د کلونو په اوږدو کې د شمالی ولایتونو په شمیر کې زیاتوالی راغلی)، حدود او نښې (دایرې او بیرغونه او د دې تر شاوخوا د خوسکی د تاوولو په نتیجه کې د لمبرونو د ډیروالی باعث وګرځید) او د لوبې قوانین د پوځی یا وسله والو ریفری یا دریم ګړو له خوا څخه پلې شول، د لوبې دغه نوی بڼه د لوبو د تمویل کوونکو لپاره د کنترول په موخه ډیره اسانه وه. د دې کار په نتیجه کې د خانانو اثر په کمیدو شو او په ورته ډول هغو لوبغاړو چې د دریم ګړی یا ریفری د پریکړې څخه انکار کاوه بندیان شول. اوس هم لکه د یوې لوبې په څیر، حکومتی وزلوبی د ملی تمویل کونکی په نقش کې د سیمې د مشر د انځور د وړاندې کولو هڅه کوی.

د کابل کلنی تورنمنټ همدارنګه د حکومت د ملی او مرکزی کولو په پروګرام کې انځور شوی وو. هغه لوبغاړی چې له دی نه مخکې هیڅکله هم د غرونو جنوب ته نه وه تللی، یوه دوه اونیز فیستیوال ته جلب شول: د لارې په اوږدو کې به د ولایتی چای ښبلو په ځایونو کې دریدل، په حیرانتیا سره به یې په وازو سترګو د پادشاه ښار ته کتل، د ښار شاوخوا د غربی رنګه مامورینو له خوا په بله بڼه اوښتی، او بیا به په شمال کې خپلو کوچینو کلیو ته د حکومت د شدید کنترول سره راستنیدل.

دا کنترول د ۱۹۷۸ څخه وروسته له منځه ولاړ خو وزلوبه د دا ډول ټولو تهدیدونو په وړاندې ژوندې پاتې شوه. پخوانی شوروی اتحاد (د ۱۹۲۰ لسزیزې د چټکو باسمچی آس سپورو د بیا ژوندی کیدنې څخه ویره درلوده)، مجاهدینو (د بزکشی سره مینه درلوده او د جهاد په دوران کې دې لوبې دوام درلود)، او طالبانو (په لومړیو کې دا لوبه بنده کړه او بیا وروسته تر یوې اندازې د دې لوبې په خوند پوه شول).

په ۲۰۱۰ کې د چټکو آس سپورو مهارتونه اوس هم د ورته سیاسی میکانیکی حرکتونو په خیر په خپل ځای دی. د وزلوبی په راتلونکې لوبه کې دې دواړو ته ځیر شی. څوک ګټونکی دی؟ د اهمیت وړ خو دا ده چې هغوی د چا آسونه ځغلوی؟ د پام وړ خو دا ده چې څوک د دې لوبو کوربه دی او څوک دا لوبې کنترولوی؟ دا د افغانستان د سترې لوبې بې ساری مسلې دی.

خو وخت تیریږی. ګټونکو آس ځغلونکو یو وخت چینې، پټکی، ټوپکونه او حتی ښه آسونه تر لاسه کول. په ۱۹۷۰ کې زیاتره مډالونه د نغدو پیسو، یعنې افغانیو په بڼه کې ورکیدل خو اوس امریکایی ډالر تر یوې اندازې ورکول کیږی. اوس په مزار شریف کې د نوروز په وزلوبه کې تلویزیونونه او ډی وی ډی ګانې ورکول کیږی. یوه افغان مخابراتی شرکت د کابل  د لوبو د تمویل په موخه د انعام په حیث ګرځنده تیلفونه ویشلی. یوه ګټونکی چینداز چې ما ورسره د مخې اشنایی درلوده، کور ته د رسیدو انتظار ونه ایست او ګرځنده تیلفون یې د بکسی څخه راویست، په خپل آس سپور او خپل کورته یې لومړی تیلفون وکړ.

د ملی تورنمنټونو د دریو لسیزیو دود او دستور د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې له منځه ولاړ. مارکیستی رژیمونه د کابل له ښار څخه د باندې د بزکشی د کنترول په برخه کې پاتې راغلی. د بزکشی ولایتی ټیمونو روزنې تر لاسه نه کړې او کلیوالې بزکشی په ټولیز ډول د شوروی اتحاد پر ضد په مقاومت کې ګډون او د هغه ملاتړ وکړ. دمګړی نږدې یو نسل وروسته،حکومت نور لومړیتوبونه  لری.

د غازی لوبغاړی د لیدو کتو د ځای د ښو ورځو د نشتوالی سربیره، اوس هم د ژمې په موسم کې د غرمې نه وروسته په کابل کې د جمعې په ورځ کی دا لوبې ترسره کیږی. دغه لوبې د پنجشنبې په ماښام د راډیو له لارې اعلان کیږی او بیا په بیلا بیلو موقیعتونو لکه د ایساف د قومندانۍ تر شاه په زاړه پوځی کلب کې، د بالاحصار په پرانیستی میدان او د قصبې په شاوخوا لمنو کې ترسره کیږی. د شمال د خانانو ترڅنګ د ښار نامتو سوداګر د آسونو خاوندان دی. د کابل آس سپاره د وزلوبی سره ډیر بلد نه دی خو هغوی دا لوبه ژر زده کوی. کتونکو ته په نه بدلیدونکې توګه هر کلی ویل کیږی.

د ډاکټر ویټنې آزوی لیکنه

ډاکټر وینی آزوی د ۱۹۷۱ کال راهیسی په افغانستان کی د ساحوی انسان پیژندنی د علم د کار پوه،کډوالو د مرستو د چارو د کارکونکی، بیا رغونی د مشاور، پولیتیز کاندید خبریال او د نشنل جیوګرافی تلویزیون د فلم جوړونکی په حیث ښکیل دی. نوموړی پدی وروستیو کی  په کابل کی د افغان مطالعاتو په امریکایی انستیتوت کی د مرکزی ریس او مشر څیړونکی شخص په حیث دنده اجرا کوی.





## د افغانستان د مبارزې نوی ډګر

# ځنګه ورزش پخواني دښمنان او معیوبین سره یو ځای کوي

فردوس د شوروی  پلوه نجیب الله د جمهوری ریاست پرمهال د ۱۹۸۰ د لسیزې په وروستیو کې یو عسکر وو، په داسې حال کې چې مالک رنګه  یو جهادی مشر او له همدې کبله د هغه مهال د دولت قسم خوړلی دښمن وو.

په داسې حال کې چې دواړه د افغانستان د ننګرهار ولایت پښتانه وو، هغوی یو د بل سره د خپلو قوماندانو په امر جنګیدل. په پای کې: ښاغلی فردوس خپله کیڼه پښه د لاسه ورکړه او ښاغلی رنګه خپله ښۍ پښه .

په تیر پسرلی کې د ماسپښین پر مهال د دوو لسیزو وروسته په داسې حال کې چې د هغوی په پرې شوو پښو باندې د دوی مصنوعی اندامونه نصب دی او لا تر اوسه هم یو د بل سره جنګیږی. خو دوی د دې لپاره سره اوس نه جنګیږی چې یو بل ختم کړی. دا ځل هغوی سره د فوټبال لپاره پر یوه خاورینه او ښوینده ځمکه باندې د جلال آباد په ښار کې چې د ننګرهار ولایت مرکز دی، د فوټبال لوبه ترسره کوی.

هغه دوه شیان چې دوی دواړه یې سره را یو ځای کړی دی هغه د دوی فزیکی معیوبتیا او سپورت دی. فردوس وایی: ”دا سړی په فزیکی او ذهنی لحاظ برابر ساتی او مرسته کوی چې د سیالانو تر منځ د ورورګلوۍ احساس ته وده ورکړی.“ نوموړی زیاتوی چې غواړی تیر هیر کړی.

که څه هم هیڅ شی نشته چې خپله خاطره هیره کړي. هغه وایی چې ځنګه یې خپله پښه د لاسه ورکړې ده: ”زه په جلال آباد کې په لومړۍ لیکه کې په جګړه کې ووم چې د یو ماین سره مخ شوم.“ وروسته د هغه کیڼه پښه پرې شوه، په پوځ کې یې خپله دنده د لاسه ورکړه او خپل کاروبار یې پیل کړ.

اوس مهال د دوو زامنو او دوو لوڼو د ویاړلی پلار په توګه ښاغلی فردوس وایی چې د لویدیزو هیوادونو د تلویزونی پروګرامونو په لیدلو سره چې معیوب وګړی د لوبو پر حالت کې ښکاره کوی، دې یې ورزش ته لیواله کړ. هغه همدارنګه وایی چې پهلوانی هم کوی.

هغه په دې خوښ دی چې په تیرو دریو میاشتو کې یې ۱۵ کیلو ګرامه وزن  د لاسه ورکړی دی اوس د هغه وزن ۱۰۵ کیلو دی.

ښاغلی فردوس او رنګه د هغو ۲۳ کسانو ترمنځ دی چې د فزیکی معیوبتیا سره د معیوبینو ملی ټولنې (این یو ډی) ته چې د جلال آباد په ښار کې دفتر لری د یو بل سره د ملاتړ او تفریح لپاره ورځی. د دغه

ډول ۱۵ کسانو لپاره د هستوګنې ځای د دغې موسسې له خوا برابر شوی دی.

د معیوبینو ملی ټولنې د ټولنیزو چارو په ریاست کې د رنګه لپاره دنده پیدا کړې ده او ښاغلی فردوس د موټرو د کرایی کاروبار پرمخ بیایی. هره ورځ هغوی د ټولنیزو ، معیوبینو او شهیدانو د چارو په ریاست کې دننه سره ګوری چې هلته د ۷۴۰ یتیمو زده کوونکو لپاره یو ښوونځی هم جوړ شوی دی.

د این یو ډی یو تن ریس مسعود صافی وایی چې د ۴۰۰۰ ثبت شوو معیوبینو له ډلې څخه یې د ننګرهار په ولایت کې تر اوسه پورې د ۵۰۰ کسانو لپاره د کار زمینه برابره کړې ده.

ښاغلی صافی چې یوه پښه یې د لاسه ورکړې ده وایی چې معیوب کسان کیدلای شی چې پښې او لا سونه یې د لاسه ورکړی وی، خو یو شی چې دوی سره ژوندی ساتی هغه د هیواد د راتلونکی لپاره د هیلې درلودل دی او دا چې ورزش تر یوه بریده پورې دغه هیله او امید راژوندی کوی.

ښاغلی صافی وویل: ''نږدې ټول دغه کسان د داخلی جګړو پر مهال چې د نجیب الله د ځواکمنۍ پر مهال او وروسته، د جهادی تنظیمونو د جګړو پر وخت معیوب شوی دی، حتی ځینې پخوانی طالبان هم زموږ سره ثبت دی.'' نږدې ۵۵۰۰ کسان چې معیوبیت لری او د درې ختیځو ولایتونو کنړ (۲۰۰۰)، لغمان (۲۰۰۰) او نورستان (۱۵۰۰) څخه د معیوبینو د ملی اتحادیی سره ثبت شوی دی.

یو تن چې خورا هیله من و ۲۸ کلن دی هغه شفیق الله صمیم دی، چې هغه کینۍ مټ د هغه راکتی برید پر مهال له لاسه ورکړ چې په ۱۹۹۰ کې د نهه کلونو وو او د جلال آباد په ښار کې ښوونځی ته په لار روان وو.

صمیم چې د دې دعوه کوی چې د افغانستان د کرکټ د ملی ځواکمن ټیم د لوبغاړو څخه یو ښه لوبغاړی کیدلای شی زیاتوی چې د افغانستان راتلونکې په ورزشونو کې ده نه په مرمیو کې. د هغه د وینا له مخې: ''ځینې کسان وایی چې زه هیڅ نه شم کولای ځکه چې یو معیوب کس یم. خو زه هغوی ته دا جوتوم چې زه هر څه کولای شم.''

د کرکټ په نړیوالې سیالۍ کې د افغانستان بریاوو هغه دې ته دومره هڅولی دی چې د شپږو اولادونو د پلار په توګه غواړی ځان د ورزش په ډګر کې وګوری، حتی دا چې ۲۰ کلونه د لیکې څخه کښته دی.

ښاغلی صمیم یو ماسپښین مهال چې د معیوبو ملګرو سره یې د فوټبال او والیبال لوبې درلودې وویل: ''ورزش ټولنیز پیوستون او همغږی ته وده ورکوی.'' هغه نه شوه کولای چې د کرکټ لوبه وکړی ځکه چې چمن دغه سهار د باران وروسته په خټو کې او ښوینده وو.

د دغو کسانو ښه ساعت تیری د والیبال، فوټبال او کرکټ لوبې دی. په منځنی ډول د هغوی څخه هر یو یې په ختین چمن باندې د درې ساعتونو لپاره لوبې کوی .

خو ولې هغوی ورزش کوی؟ د صمیم له نظره چې همدارنګه د لاسی کارونو روزنه هم ورکوی: ''ځکه چې ورزش د فزیکی او ذهنی روغتیا لپاره ښه دی او دا ځوانان د دې څخه ژغوری چې په مخدره توکو او سګرټو باندې روږدی شی.''

په جلال آباد کې د معیوبینو د ملی اتحادیې د ورزش د څانګې مشر حیات خان په دې ډیر ویاړی چې د هغه د ټولنې معیوبو غړو وکړای شو تیر کال د مارچ په میاشت کې په کرکټ کې د آتوو بهرنیو هیوادونو د سفارتونو د افسرانو او کارکوونکو د افغانستان د دفاع د وزارت ټیم ته ماتې ورکړی.

ښاغلی حیات خان چې ۳۹ کلن دی یو جهادی جنګیالی دی چې په ۱۹۸۸ کې د ماین په چاودنه کې یې خپله ښی پښه هغه وخت له لاسه ورکړه چې د ننګرهار ولایت د چپرهار په ولسوالی کې یې د یوې دولتی پوستې د نیولو هڅه کوله، نوموړی وایی چې خپل زیات وخت د ورزشی ټیمونو د سازماندهی او د هغوی لپاره د مرستو په راټولولو باندی تیروی. نوموړی زیاتوی چې د هغه د موسسې ټیم وکړای شو چې تیر کال د والیبال په لوبه کې د مزارشریف، لوګر او کابل ټیمونو ته ماتې ورکړی. ''ما همدارنګه ټیمونه په دې ګومارلی چې زیات وخت په کابل کې په سیالیو کې ګډون وکړی.''

ښاغلی حیات خان وایی: ''اساسی ستونزه دا ده چې دولت زموږ سره هیڅ ملاتړ نه کوی پرته له دې چې شپږ سوه افغانی چې ۱۲ امریکایی ډالره کیږی په میاشت کې معیوب ته د (مدد معاش) په توګه ورکول کیږی بل ډول مرسته نشته.''

۴۵ کلن ډاکټر نادرشاه د افغانستان د ورزش اتل د یو کال او شپږو ورځو لپاره په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کې نیویارک ته د رسیدو تر مخه وویل چې ورزش د هغو کسانو لپاره چې ترخه تیر وختونه او معیوبتیا لری ډیر ګټور دی ځکه چې ''ورزش د دې سره مرسته کوی چې تاوتریخوالی راکم شی او د ناروغیو په وړاندې معافیت زیات شی.''

تیلک پوخاریل او شفیق الله واک (یوناما )





## ;ăčgĭ HuọŬl Ơ ĂPbĕï gÃbọŰčbŏ ùbgá Ơ ăčĤ ĞgĂ

ځوان افغانان سپورت ته لاس رسی پیدا کوی او د افغان ځوانانو او د خلکو په یو ځای کولو کې مرسته کوی. یو شمیر ځوانې نجونې د یوه نوې لوبې ګنبزه ډوله خونې په منځ کې ولاړې او د واحلی لارشوونو ته انتظار باسی. د دوی په زوره غږیدا د ګنبزې له دیوالونو څخه یوې او بلې خوا ته وځی ترڅو چې په ډیکو او پورې وهلو کې دوی له کڅوړې څخه د سک یټ تختې راوباسی، خولی په سروی او خپل لینګی په پټیو پټ کړی او د خپلې ښووونکې په شاوخوا راټولې شی. نجونې له تمرین سره بلدې دی او دومره په ډاډه زړه لوبې کوی چې د یوې لحظې لپاره له یاده وایستل شی چې دغه لوبې د نجونو لپاره په افغانستان کې څومره نوې دی.

دیارلس کلنه وهیله خپلو ځینو شاګردانو څخه کشره ده، وهیله پخوا د ښار په کوڅو کې ژاولې خرڅولې ترڅو چې اولیور پر کوویچ په ۲۰۰۷ کې له هغې سره ولیدل. اولیور له استرالیا څخه د

کار په لټه کې کابل ته راغلې و او بیایې په دې ترڅ کې د ښار د کوڅو د ماشومانو لپاره د سکیټ د لوبې په ښوولو پیل وکړ. وهیله دغه لوبه ډیر ژر زده کړه او مکرویان ته نږدې یې په خپله ساحه کې د ورځې څو ساعته تمرین کاوه. دا اوس د میاشتې ۶۰۰۰ افغانی (۱۵۰ ډالر) معاش اخلی او خپلو همزولو نجونو ته د سکیټ لوبې ورښیې. پرکوویچ د سکیټستان د غیر حکومتی موسسې له موسسینو (۲۰۰۸) څخه دی وایې: ''واحله د یخ د سکیټ د لوبې ستورې ده.''

''مګر په صنف کې، چیرې چې دې غیر رسمی تعلیم پیل کړی دا یوه عادی زده کوونکې ده او یو بل څوک د دې ښوونکې ده. دوی تر بل هر ښوونکې یو بل ډیر ښه درک کولای شی.''

د سکیټ لوبې د دې کار یو پیل دی. وهیله او نورې نجونې او هکلان، د دې په شان له ښوونځی څخه پاتې دی خو په هره هفته کې د قران کریم، دری او ریاضی درسونه تعقیبوی.

پرکوویچ وایې: ''سپورت د تعلیم د پیل کولو لپاره یوه ډیره اسانه لار ده. ځوانان که شتمن وی یا غریب، تعلیم یافته وی او که نه وی، دوی په همدغه طریقه په لوبو کې برخه اخلی. مونږ غواړو چې دغه طریقه تعقیب کړو او د هغوی تعلیم ته مخه شی.''

پر کوویچ چې ۲۵ تنه په خپل ګروپ کې لری او زیات یې په خپله خوښه کار کوی خپله غیر حکومتی موسسه د داسې یوه ځای په څیر وینی چې لوبې ځوانان په عملی ډول د سولې له تجربو سره مخامخ کوی. لوبې د ټولیدلو داسې یو ځای دی چې قومی، اجتماعی او نور توپیرونه له منځه وباسی او ځوانان سره راغونډوی، دوی یو بل ته غوږ نیسی، له یو بل سره خبرې کوی .



او له یو بل څخه څه زده کوی. د لوبو له لارې بیلا بیلې ډلې سره یو ځای کیږی او دغه یو ځای کیدنه په لوبو کې، د یخ د لوبو په میدان کې کیږی چې د کنفرانسونو د تالار له دیپلوماسی څخه ډیر لری واټن لری.

هره ورځ له ۳۰۰ څخه زیات ځوانان سکیټېستان ته د سکیټ د لوبې او نوور فعالیتونو لپاره راځی. سوفی فریدل، جرمنی ټرینر چې د سکیټېستان له ډلې سره یو کال د مخه یو ځای شوی وایی چې دا په دې موده کې د ځوانانو په منځ کې د بدلون شاهده ده په پیل کې.

شتمن او غرب هلکان له یو بل څخه بیل کښیناستل، او ډیرې لیږ به یې له یو بل سره خبرې کولې، مګر څو اونۍ وروسته دوی له یو بل سره خبری پیل کړی.

دا وایی ''یوه ورځ چې صنف لا نه و شروع شوی شتمنې نجونې راغلې او زه یې ښکل کړم. کله چې غریبې نجونې را ورسیدلې دوی یوه بله په مخونو ښکل کړې. دا ډیره د حیرانتیا وړ ده. زه یقین نه لرم چې دغه کار به په ټول کابل کې کیږی ښایی دوی په کورونو کې نور عادتونه ولری، مګر په دې ځای کې دوی لیږ تر لیږ په ازادانه ډول خپل احساسات څرګندولای شی.''

مقدسه په احتیاط سره د سرو روښانو مخروطې شکله علامو ترمنځ د سکیټ لوبه کوی او بیا راځی له نورو نجونو سره د دیوال په غاړه کښیني. د اووم ټولګی زده کوونکې یوه اونۍ مخکې تمرینونه شروع کړل او اوس ملګری لری. دا وایی: ''زه دلته له راتلو وروسته ډیره خوشحاله یم. زه له درس ویلو څخه وروسته غواړم چې نور هم د سکیټ لوبې په کوڅو، کور او ښوونځی کې کې وکړم. ما له خپل پلار څخه وغوښتل چې زما لپاره شخصی د سکیټ د لوبې سامان واخلی مګر هغه وایی چې پیسې نلری.''

فرحناز تېرکال د سکیټ لوبې وروسته له هغه پیل کړی چې ښوونکې دا په سکیټېستان کې شامله کړه. ددې مور او پلار له هغې سره مرسته کوی. دا وایی: ''زما کورنی ډیره خوشحاله ده چې زه تعلیم کوم او د فراغت په وخت کې دلته د سکیټ لوبې کوم. زه غواړم چې تر ټولو د مخه شم او وکولای شم چې د خپل ځان لپاره کار پیدا کړم او د سوفی په شان نورو نجونو ته د سکیټ لوبه ور زده کړم.''

د نجلی اعتماد ډیر څرګند دی، لکه فریدل چې وایی دوی اوس خپل نظریات او عقیدې څرګندوی. دا وایی: ''زه له دوی څخه ساده پوښتنې کوم لکه دا چې ته منې ډیرې خوښوی او که کیلې؟ په دې ډول دوی خپلې نظرېې وایی، څه شی چې خوښیږی او څه یې نه خوښیږی.'' او سکیټېستان ۳۱۵ زده کوونکې په دغه ډول لوبې پیل کوی. موږ له وهیله څخه وپوښتل ''څه ډول دی د سکیټ لوبې پیل کړی؟'' هغه یوه لحظه د ساکښلو لپاره ودریده او ''نه'' یې وویل او له نورو نجونو سره یو ځای شوه.





